بسم الله الرحمن الرحيم

# د مسلمانو د مشرانو خیانت د اسلامي ټولنې د ذهنیت په فاسدولو کې له صهیونیستانو سره مرسته کوي

**خبر:**

د فتوا لپاره د اندونيزيا علماوو شورا (MUI) رييس محمد اسرورون وروسته له هغه د MUI د دوو غړو غړيتوب وځنډاوه چې د يهودي ګټو ملاتړي سازمان سره د اړيکو تور پرې پورې شو؛ دا پرېکړه د نهضة العلماء د غړو او اسرايلو د ولسمشر ترمنځ تر ليدنې وروسته وشوه. د دغو کسانو هويت نه دی افشا شوی. اسرورون وويل چې دغو دوو تنو تېر کال په سينګاپور کې د اسرايلو له سفير سره کتلي وو. د هغوی د غړيتوب ځنډېدل د موضوع تر روښانه کېدو پورې دي او اصلي پرېکړه به وروسته وشي. تر دې وړاندې نهضة العلماء اسرايلو ته د پنځو تنو علماوو سفر غندلی او بې‌اجازې يې بللی و. د سميه‌ييزو رسنيو له لوري د دغو  کسانو نومونه زين المعارف، منور عزيز، نور البحرالعلوم او عزه عنفيسه خپاره شول. نهضة العلماء د اسرايلو له ولسمشر هرتزوګ سره دغه کتنه نامناسبه او بې‌اجازې وبلله. (سرچينه: Jakartaglobe.id)

**تبصره:**

په غزه کې د روانې نسل وژنې سربېره اسرايلي دولت هڅه کوي چې اسلامي علما، مشران، روڼ اندي او ځوانان د صهيونيستي رژيم په ګټه وکاروي. د حيرانتيا وړ ده چې اوس هم په مسلمانانو کې باسواده کسان او علما شته چې له صهونيستي مشرانو سره ليدنې ته ليواله دي او يا له صهيونيستي پلوه ډلو سره دوستانه اړيکې لري.

دا د غزې له خلکو، چې هره ورځ په بې رحمانه ډول وژل کيږي، سره ستر خيانت دی. مسلمانان د يو بدن په څېر دي؛ کله چې يې يو غړی خوږ شي، ټول بدن ورسره دردېږي. د مسلمانانو د ورورولۍ د دغه مفهوم په اړه دوی پوهيږي؟ که دا مسلمان شخصيتونه د سولې او زغم په نامه د صهيونيستي رژيم له مشرانو سره خپلې ليدنې توجيه کوي؛ نو د سولې ويجاړونکو او د نړۍ تر ټولو توکمپال او اپارتايډ رژيم ته کومه سوله وړاندې کېدی شي؟

دا ډول کړنې يوازې د مسلمانانو پر وړاندې د ايمان او رحم د کمزورۍ او د اسلامي ټولنې دښمنانو ته د تسليمېدو په معنی دي.

دا هغه ناروغي ده چې نن ورځ زموږ ځینې مسلمانان ورونه پرې اخته دي، چې د مسلمانانو پر وړاندې سخت خو د کافرانو پر وړاندې نرم دي. الله تعالی موږ ته امر کوي چې له کافرانو سره سختي او له مسلمانانو سره نرمي وکړو. دغه لارښوونه نه یوازې پر مسلمانه ټولنه، بلکې پر مسلمانو مشرانو هم تطبیقیږي. شونې نه ده چې دغه شخصیتونه دې له صهیونیستانو سره په ازاده توګه همکاري وکړي او یا دې له صهیونیستي رژیم سره د خپل حکومت او چارواکو له اجازې پرته لیدنه وکړي.

که دولت په ریښتیا هم د صهیونیزم پر وړاندې کلک هوډ لرلای او له فلسطین څخه یې په کلکه دفاع کولای، نو په دولت کې دننه ټول عناصر یې باید نه یوازې د فلسطین د دفاع لپاره پورته کړي وای، بلکې په اسلامي ټولنه کې د صهیونیستي رژیم د تبلیغاتو د ډیرو کوچنیو فرصتونو مخه به یې هم نیولې وای.

په اندونیزیا کې له صهیونیستانو سره د مسلمانو روڼ اندو د ښو اړیکو ساتل ښیي چې د اندونیزیا حکومت له صهیونیزم سره د مبارزې او د فلسطین په دفاع کې جدي نه دی. دا د فکر وړ ده، ځکه چې د اندونیزیا او اسراییلو ترمنځ سوداګریزې اړیکې شته او په وروستیو کلونو کې ځو اسرایلي ورزشکارانو او چارواکو اندونیزیا ته سفر کړی دی.

یوازې اندونیزیا دا کار نه کوي؛ ښایي نور مسلمان هېوادونه هم ورته چلند وکړي. له یوې خوا پر صهیونیزم نیوکه کوي او د فلسطین ملاتړ کوي، خو له بلې خوا له اسرایلو سره همکاري کوي او صهیونیستي تبلیغاتو ته اجازه ورکوي چې د مسلمانانو په ذهنونو کې نفوذ وکړي.

دغو حالاتو ته په کتو، د اوسنیو مسلمانو مشرانو څخه د فلسطین د کړکېچ هوارولو ډېره لږه تمه شته. پربېږدئ چې دا حقیقت افشا شي ترڅو مسلمانه ټولنه د خپلو مشرانو پر خیانت پوهه شي او دا درک کړي چې دا رهبران د مسلمانانو د اوس او راتلونکي دواړو لپاره هیڅ ګټه نه شي رسولی.

مسلمان ورونهِ، مشران، روڼ اندي او علما باید تل د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم لارښوونې په یاد ولري، چې په نیکۍ او تقوا کې له یو بل سره مرسته وکړي، نه په ګناه او دښمنۍ کې. ایا تاسو د الله تعالی له خبرداري څخه نه وېرېږئ، په تېره بیا کله چې تاسو اسلام او مسلمانه ټولنه د الله تعالی او مسلمانانو له دښمنانو سره کتنې او وروړګلوۍ ته وربولئ؟ دا د الله تعالی د ایتونو پېټولو او په لږ قیمت خرڅولو ته ورته کړنه ده. په اخرت کې به دا خلک د دوزخ اور خوري. الله تعالی فرمایي:

«إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلاً أُولَـئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلاَّ النَّارَ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ اللّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» [بقره: ۱۷۴]

**ژباړه:** *«په رښتیا هغه خلک چې د الله تعالی نازل کړي کتاب (یوه برخه) پټ (یا یې تحریفوي)، او هغه په لږه ګټه خرڅوي، هغوی د دوزخ له اور پرته بل څه نه خوري او د قیامت په ورځ الله تعالی له هغوی سره خبرې نه کوي او هغوی (له ګناهونو) څخه نه پاکوي. هغوی ته سخت عذاب په تمه دی.»*

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره

## عبدالله اسوار

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د محرم ۱۶مه**

**۲۰۲۴م کال، د جولای ۲۲مه**